مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۳/۰۷

# د نن او پرون حالات او شرايط

درنو وطنوالو. په افغانستان کي حالات په دومره چټکۍ سره په تغيير کي دي چي زموږ او ستاسي نظريات او ليکني ورپسي رسېدلای نه سي. د امريکا جمهوررئيس، هغه ډانلډ ټرمپ چي تر پرون پوري يې طالبان يوه ټروريستي موسسه بلله او رهبران يې د ملګرو ملتونو په توليست کي شامل کړي ول، درې ورځي مخکي د طالبانو له مشر ملا عبدالغني برادر سره، په ټلفون کي، څه باندي پنځه دېرش دقيقي خبري وکړې او وروسته يې وويل چي له هغه سره يې ښې او ګټوري خبري وکړې. دا چي په دې دومره اوږده مکالمه کي به يې څه سره ويلي وي موږ يو هم په خبر نه يو. هغه امريکا چي څه کم نولس کاله له طالبانو سره وجنګېده او په زرهاوو يې هم د جنګ په ميدانونو کي ووژل او هم يې په زندانونو کي شکنجه کړل. هغه امريکا چي څه باندي پنځه زره طالب بنديان يې د شمال مشهور قصاب او مسلکي جنايتکار رشيد دوستم (د صبغت الله مجددي خالد بن وليد) ته وسپارل او هغه د قربانۍ د پسونو په څېر قتل کړل. هغه امريکا چي له کابل څخه تر کندهاره پوري يې مخ په تېښته طالبان، له هيلي کوپټرونو څخه، د مرغيو او د ښکار د هوسيو په څېر وويشتل. نن د سولي خبري ورسره کوي. جمهوررئيس يې په ټلفون کي ورسره رږغېږي او خارجه وزير پومپيو او خاص استازی زلمی خليلزاد يې تر دوحې پوري ملاقات ته ورځي. دا نه ساده خبري او نه بې مفهومه انکشافات دي او نه د متحده ايالاتو حکومت زموږ مضامينو، اعتراضونو او مشورو ته دوه توته ارزش ورکوي.

پر افغانستان باندي، چي له بده مرغه هر وخت د ختيځ او لوېديځ د رقابتونو په سلسله کي د تودو او سړو جنګونو ميدان دی، په سل ګونو کتابونه ليکل سوي دي او دلته په يوه لنډ مضمون کي، چي يوازي له خپلو وطنوالو سره د زړه د خوالي کولو په غرض ليکل کيږي، بحث نه سي ورباندي کېدلای.

د افغانستان په برخه کي د روسيې د پراختياغوښتني سياست، بد نيت او جنګي عمليات او يرغلونه په نولسمه او شلمه پېړۍ کي څو ځله د لوېديځو قدرتونو، برتانيې او حتی ټولي غربي نړۍ د مداخلې سبب سوی دی.

تاسي ټولو ته به په ياد وي چي روسيې پر افغانستان باندي د امريکا د يرغل څخه لږه موده وروسته د شمال ايتلاف، په تېره بيا برهان الدين رباني او خپل پخواني همکار رشيد دوستم ته د دوستۍ لاس اوږد کړ او په دې توګه يې يو ځل بيا ځکه د افغانستان په چارو کي سياسي مداخله پيل کړه چي پر افغانستان باندي د متحده ايالاتو او ناټو په ګډ يرغل کي برخه او جدي بلنه نه وه ورکړه سوې. دا خبري پخپله اوږده بحث ته اړتيا لري.

کله چي طالبان، د امريکا او لوېديځي نړۍ د يوه غليم قدرت په حيث، له ټولي نړۍ څخه تجريد سول؛ ضمنا د افغانستان د حکومت او مخالفينو تر منځ د سولي د خبرو او احتمالي روغي جوړي په باب آوازي او ليدني کتني پيل سوي نو د روسيې لپاره د مداخلي کولو تر ټولو ښه فرصت برابر سو. روسيې، چي په ۱۹۸۲ کال کي يې د جمعيت اسلامي د شورای نظار د امير احمدشاه مسعود سره د دوستۍ او تېري نه کولو تړون لاسليک کړی وو او له پخوا څخه يې لا د شمال ايتلاف او پخواني جمهوررئيس حامد کرزي سره ښې اړيکي ټينګي کړي وې، طالبانو ته هم د دوستۍ يا لږترلږه له حکومت او مخالفينو سره په خبرو کي د منځګړتوب او د خبرو د کوربه توب پېشنهاد وکړ. طالبانو، چي بين المللي توجه ته يې ضرورت درلود، له مخالفينو سره يې دوه ځله په ماسکو کي خبري وکړې؛ تود هرکلی يې وسو او د خبرو اترو په باب اطلاعاتو يې د نړۍ په مطبوعاتو کي انعکاس وکړ.

متحده ايالاتو، چي په افغانستان کي يې په څه کم شلو کلونو جګړو کي په ميلياردونو ډالرونه لګولي، څه باندي دوه زره عسکر يې پکښي قتل سوي، په لس هاوو زره يې معيوب سوي او د تل لپاره پر حکومت باندي تاوان سوي، په زرهاوو يې په روحي ناروغيو اخته سوي او په لس هاوو زره يې په مخدره موادو معتاد سوي او په مقابل کي يې د جنګ په ميدانونو کي نه يوازي پرمختګ نه دی کړی بلکه هره ورځ يې پر شا تګ کړی دی، د روسيې دغه دول مداخله ځکه نه سوای منلای چي روسيې د شمال ايتلاف له وخته لا د ځان کړی وو.

له يوې خوا د شمال ايتلاف او د هغه انډيوال، يا د شمال له ايتلاف څخه جوړ د کابل حکومت، په دې څه کم شلو کالو کي نه يوازي لاري ته رانه غی بلکه هره ورځ تر بلي په فساد کي ډوب سو، په خپل منځي جګړو او د غنيمتونو د وېشلو پر سر په مخالفتونو لګيا سو او هره ورځ يې د جنګ په ميدانونو کي لياقت، جنګي قابليت او جنګي روحيات



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاري ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کمزوري سوه. له بلي خوا طالبان هره ورځ تر بلي غښتلي سول، اولسوالی او خاوري يې ونيولې او، په وروستيو وختونو کي يې لا، په بين المللي ميدان کي رسميت هم پيدا کړ او د سيمي توجه يې جلب کړه.
د امريکا لپاره به دا سادګي وای چي د شمال د ايتلاف تر څنګ يې، چي د دوي په زرهاوو ميليونو ډالرو يې هسي بېځايه او بې ګټي چرچي کړي وي، او بالاخره د روسيې لمنې ته لوېدلي وه، د طالبانو منظم قوت، تر قيامته پوري، د ځان دښمن کړي. امريکا، د فرصت د ترلاسه کولو او نورو تاوانونو څخه د ځان ژغورلو لپاره، ميدان ته ودانګل او څرنګه چي په روانه جګړه کي تر ټولو قوي اړخ دی نو دا ګړی داسي ښکاري چي ميدان يې ګټلی دی.
امريکا او طالبانو، له ډېرو اوږدو پټو او ښکاره مذاکراتو څخه وروسته، د روان کال د فبروري پر نهه ويشتمه په دوحه کي توافقنامه لاسليک کړه او د دوهمي برخي لومړی ماده يې وايي: « د افغانستان اسلامي امارت، چي متحده ايالاتونه يې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم يې پېژني، به خپل هيڅ غړي او د القاعدې په شمول هيڅ ډلي او يا فرد ته اجازه ورنه کړي چي د افغانستان له خاوري څخه د متحده ايالتونو او د هغوی د متحدينو امنيت ته ګواښ پېښ کړي»
په دوهمه ماده کي ژمنه کوي چي خپلو غړو ته به لار ښوونه وکړي چي له هغو ډلو سره همکاري ونه کړي چي د متحده ايالتونو او د هغوی متحدين تهديدوي. په دريمه ماده کي وايي طالبان به په افغانستان کي د متحده ايالتونو او د هغوی د متحدينو د امنيت د تهديدولو څخه د هري ډلي يا فرد مخنيوی کوي او له جلب و جذب، روزني او بسپني ټولولو څخه به يې منع کوي او کوربه توب به يې نه کوي. تر دې لا په زړه پوري څلورمه ماده ده چي طالبان هغو کسانو ته د وېزې، پاسپورټ او د سفر د جواز او نورو قانوني اسنادو ورکولو څخه منع کوي چي د متحدينو امنيت ته خطر متوجه کوي. او تر ټولو عجيبه خو لا دا ده چي، د توافقنامې د دريمي برخي په لومړی ماده کي، متحده ايالات ژمنه کوي چي د نوي اسلامي حکومت سره به مثبتې اړيکي ساتي او په ورپسې ماده کي وايي چي متحده ايالات به د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو له لاري تر جوړ جاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بيا رغولو اقتصادي مرستي وغواړي.
د لومړی برخي په هه ماده کي راغلي دي چي متحده ايالات به کوښښ وکړي چي د امنيت په شورا کي ډيپلوماټيکي هلي ځلی پيل کړي څو له خپل تور ليست څخه د طالب مشرانو نومونه وباسي.
د دې کلماتو زياتي توضيح ته ضرورت نسته خو په څرګنده ښکاري چي امريکا طالبانو ته د وخته لا د يوي اداري او حتی د حکومت په حيثيت قايله ده.
د المان د ډويچي ويلې خبري آژانس وايي کله چي د جمعې په ورځ په سپينه مانۍ کي له جمهوررئيس ټرمپ څخه پوښتنه وسوه چي ايا کېدلای سي طالبان يو وخت واک ته ورسيږي هغه ورته وويل چي په پلان کي نه ده خو کېدای سي داسي څه ترسره سي.
ډويچي ويلې وايي د امريکا جمهوررئيس زياته کړه چي موږ نه سو کولای د راتلونکو شلو کالو لپاره هلته پاته سو. ده وويل موږ دا شل کاله هلته يو او د هغه هيواد محافظت کوو. يو وخت بايد هغوی پخپله د ځان محافظت وکړي. ډويچي ويلې وايي ټرمپ وويل چي زه نه پوهېږم چي له افغانستان څخه د امريکائی قواوو له وتلو وروسته افغان حکومت د ځان ساتلو وړتيا لري کنه خو موږ بايد انتظار وباسو.
موږ ګورو چي امريکا له يوي خوا د وخته لا طالبانو ته د يوه حکومت او اداري واحد په حيثيت قايله سوي او له بلي خوا د افغانستان اوسنی حکومت، چي څه کم شل کاله، د امريکا په ډالرو چلېدلی او عيشونه يې کړي دي، بالاخره پر ميدان پرېږدي او پخپله جمهوررئيس ټرمپ وايي نه پوهېږي چي حکومت له ځان څخه دفاع کولای سي کنه.
له دې ليکني څخه، چي زه يقين لرم ډېرو کسانو ته به د تکرار خبرو حيثيت ولري، زما مطلب دا دی چي لکه څرنګه چي تر اوسه پوري هيڅ وخت زموږ، په اصطلاح، منورينو نظر نه دی غوښتل سوی نو په دغه برخه کي هم نه موږ ته څوک غوږ نيسي او نه زموږ په مضامينو فکر خرابوي. بهتره دا ده چي يوه بل ته له بد رد ويلو څخه ځانونه وژغورو، هسي يوه بل ته د طالب او دې او هغه په ويلو ځانونه ستړي نه کړو. څه چي کيږي هغه کېدونکي دي او زموږ که يو څه خير له لاسه کېدی رسوو به يې.
و ما علينا الّا البلاغ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ